# کوشنۍ سوداګره



لیکوال: ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

پیخلیک: وږی ۱۴۰۴ لــېږدی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لیکي پوهه:

**سرلیک:** کوشنۍ سوداګره
**لیکوال:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**ایډیټور:**
**د پښتۍ ډیزان:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:**
**چاپشمېر:** ۱۰۰
**چاپ نېټه:** میاشت - وږی / کال ۱۴۰۴
**واټس اپ:** ۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸+
**برېښنالیک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

پخښتۍ.......................................................... ۱
بسم الله الرحمن الرحیم .................................................. ۲
لیکي پوهه:..................................................................... ۳
لړلیک .............................................................................. ٤
تراڼ (پیل، شروع، برید)..................................................... ٥
د یادښتونو له پاره:.............................................................. ۷
ناانډوله (ناول، کېسه یا داستان) ........................................... ۸
د چاپ شویو کتابونو لېست.............................................. ٦۸
د کار لاندې کتابونو لېست ............................................... ۷۲
د امکان او وخت په صورت کې........................................ ۷۳
د پخښتۍ څټ ................................................................ ۷٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

## ترانې (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی. عظمت، د ټولې نړۍ موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل یو بل حقیقي داستان یا ناول چې کیسه یې په هېواد کې د ننه تېره شوې ده، د خپلو کتابونو مینوالو او لوستونکو سره شریکه کړم. زما د کتابونو مینه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، نه باید اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې ځانګې مینه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړي چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنئ سوداګره**

..........................

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپیڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هیله کیږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره شریکه کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

په درنښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنی سوداګره**

...........................

## د یادښتونو له پاره:

۱- ..........................................................................

۲- ..........................................................................

۳- ..........................................................................

۴- ..........................................................................

۵- ..........................................................................

۶- ..........................................................................

۷- ..........................................................................

۸- ..........................................................................

۹- ..........................................................................

۱۰- ........................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

**ناانډوله (ناول، کېسه یا داستان)**

په پخوا پیر(وختونو) کې یوه سړی چې نوم یې شریف و، ژوند کوه.

هغه د خپل نوم په شان هم شریف (ښه) سړی و، د هر چاه سره به یې ښه سلوک درلود او د خپلې کورنۍ او نورو کسانو باندې ډېر ګران و.

هغه لږ لوی او د ښوونځي شو، پلار یې هغه په ښوونځي کې ګډ (شامل) کړ.

په ښوونځي کي یې ښه استعداد نه درلود او د ټولګي پای نمبر به و.

هغه ښوونځی په ډیرو ستونځو سره پای ته ورساوه او د دولسم ټولګي نه و وت(فارغ شو).

کورنۍ یې ډېر کوښښ وکړ تر څو په هغه پوهنتون و وایي مګر هغه ښوونځی په ډېر ستونځو سره، سر ته رسولی و، نو ځکه یې د پوهنتون لوستلو توان نه درلود.

څه موده تېره شوه، هغه به اخوا او دېخوا ګرځېده او څه کاروبار یې نه درلود.

یوه ورځ د کور نه وختي د باندې شو او غوښتل یې چې د خپل ملګرو سره ښار ته لاړ شي، په لاره کې هغوی، د هغه وخت دولتي عسکرو ودرول او د هغوی نه یې د تعجیل کارتونو پوښتنه وکړه.

هغوی په وار سره خپل کارتونه وښودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

عسکرو به لمړی د هغوی څېرو ته کتل بیا به یې د کارټونو پیخلیک په ځیر سره کاته او څه پوښتنې به یې هم د هغوی نه کوې.

د شریف وار ورسېد.

یوه عسکر په ځیر سره د هغه کارت ولید.

بیا یې شریف ته وکتل او ویې ویل:

ستا د کارټ پیخلیک لړې ورځې پاتې دي.

ښه به وي چې د عسکرۍ د تېرولو د پاره ځان څېره کړې.

شریف و ویل:

زه پلان لرم چې پوهنتون و وایم.

عسکر ترې پوښتنه وکړه:

تا د پوهنتون آزموینه ورکړی ده؟

هغه و ویل:

هو!

بیا عسکر ورنه پوښتنه وکړه:

کوم پوهنځی دې ټاکلی دی؟

هغه و ویل:

ما انجینري پوهنځی ټاکلی دی.

بیا عسکر و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

ستا د کارت دوې میاشتې پاتې دي، که چېرې په آزموینه کې بریالی نه شوې، کولای شې زمونږ قطعې ته راشې، البته ځان څېره او عسکري خدمت دې پای ته ورسوې.

شریف و ویل:

ستاسو قطعه چېرته ده؟

عسکر و ویل:

زمونږ قطعه په کابل ښار کې د ننه ده.

شریف وپوښتل:

دنده یې څه او چېرته ده؟

عسکر و ویل:

دنده یې امنیت او کابل ښار اړوندو سیمو کې ده.

شریف بیا و پوښتل:

نفر کشي خو به نه لري؟

هغه و ویل:

اوس خو یې نه لري.

شریف د جبه کلم (قلم) و ویست او د عسکر نه یې د کاغذ غوښتنه وکړه تر څو د عسکر نوم او پته (آدرس) ولیکي.

عسکر هم ورته د کاغذ کوچنې برخه ورکړه، شریف د هغه د نوم ، قطعی نوم، کومندان (کومندان) نوم او پته ولیکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنئ سوداګره**

..........................

بیا یې هغه ته و ویل:

که چېرې په پوهنتون کې بریالی نه شوم، حتما تاسو قطعي ته راځم او عسکري خدمت تر سره کوم.

عسکر هم خوشحاله شو او شریف ته یې و ویل:

په خیر راشې!

زه د ستا په تمه (انتظار) یم.

بیا شریف د هغه نه خدای پاماني واخیسته او د خپل نورو ملګرو سره ښار ته روان شو.

ورځ یې په ښار کې تېره کړه، پارکونو او سینما ته لاړل او ماښام بېرته خپلو کورونو ته ستانه شول.

ورځې تېرېدي او د هغه امید او خوشحالی لږېده (کمېده).

د بلې خوا د هغه د کارټ وخت هم په لږېدو و.

څه موده تېره شوه او د کانکور د آزموینې پایلې هم اعلان شوې.

په هغه وخت کې د نن په شان ټېلفونونه او امکانات نه و.

تلوېزون هم ډېرى خلکو نه درلود او که چا هم درلود، هغوی هم د برېښنا ستونزه درلوده.

ټولو به راډیو اورېده او له هغې لارې خبرېده.

شریف هم د آزموینې د پایلې د اعلان نه د خپل ملګري په مرسته خبر شو، کوم چې راډیو یې اورېدلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

دا وخت د شپې اته نيمې بجې وې.

هغه د شپې خوب و نه کړ.

کله به د پوهنتون په سوچ کې ډوبېده او کله هم د عسکرۍ.

شپه سبا شوه.

هغه د سهار لمونځ له پاره اودس وکړ او بيا د لمانځه د ادا کولو د پاره ماجت خوا ته روان شو.

لمونځ يې په جمع ادا بيا بېرته خپه کورته ستون شو.

په دې وخت کې مور يې ورته چاى دم کړى و.

هغه د سبا چاى و څښل، بيا هغه حمام ته لاړ مخ اولاس يې تازه او ږيره يې وخرېله (تراش کړه).

خپل کالي يې بدل او دريشي يې تن ته واچوه.

وېښتان يې ږمونځ او ځو ځل، ځان يې په هنداره کې وليد.

بيا يې روسي کلونيا پر مخ و پاشه، بوټان يې په پښو او له کوره و وت.

لمړى خپل ملګري کورته لاړ کوم چې د هغه کور ته نږدې شتون درلود.

د هغه کور ته ورسېد او دروازه يې و ټکوه.

د هغه ملګرى دروازې ته راغى او دروازه يې خلاصه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنئ سوداګره**

..........................

لمړی يې شريف ته سلام ورکړ او بيا يې هغه ته د کور د ننوتو بلنه ورکړه.

شريف د هغه سلام ته وعليکم و ويل او د هغه نه يې مننه وکړه.

بيا يې هغه ته و ويل:

راځه!

کابل پوهنتون ته د کانکور د پيلې په خاطر لاړ شو او ليسټونه وګورو چې بريالي شوي يو او که نه؟

ملګري يې و ويل:

سمه ده!

زه کور ته ننوځم، کالې مې بدلوم او ژر بېرته راوځم.

شريف و ويل:

سمه ده!

زه دروازې نه لږ لرې ودرېږم.

ته کوښښ وکړه لږ ژر راو وځه چې لاړ شو.

بيا الته ګڼه ګونه پيلېږي او د ليسټ کتنه کې ستونزي منځ ته راځي.

ملګري يې و ويل:

سمه ده!

زه ژر راځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

.........................

بیا هغه کور ته د ننه شو.

شریف هم دروازې خوا ته لږ لرې ودرېد او په سوچ کې ډوب شو.

لږ څنډ وروسته د هغه ملګرى د کوره و وت او دواړه د ملی بس تم ځاى ته لاړل.

التبه د بس انتظار يې وکړ.

څو دکيکې وروسته بس ورسېد، هغوى په بس کې و ختل او ښار ته لاړل.

بیا د پوهنتون د موټرو تم ځاى ته لاړل او د پوهنتون مزى (لین) موټر کې کېناستل.

موټر ډک او حرکت یې وکړ.

دواړه، سوچې وو.

هغوى په موټر کې له یوه کس نه د پوهنتون د ننوتو دروازې پوښتنه وکړه.

کس و ویل:

تاسو نوي زده کړیالان یاست؟

هغوى ځواب ورکړ:

نه!

مونږ د کانکور آزموینه ورکړې ده، پایله یې زړول شوې ده، مګر مونږ نه پوهیږو چې پوهنتون ته بریالي شوي یو او که نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

اوس راون یو، چې لیسټونه وګورو.

هغه و ویل:

تاسو ته د بریالیتوب هیله کوم.

زه په پوهنتون کې د دریم سمستر زده کړیال یم.

تاسو به تر هغه ځای پورې لارښوونه وکړم.

هغوی مننه وکړه.

تم ځای ورسېد.

کس و ویل:

راځې!

ټول له بس نه راکوز شول.

بیا کس و ویل:

راځئ!

زما پسې راشئ!

هغوی د پوهنتون لوې دروازې نه د ننه شوو او ټاکلې ځای ته لاړل.

بیا یې هغوی ته د لیسټونو ځای وښود، د شریف او د هغه ملګرې نه یې خدای پامانی واخیسته او هغه خپل پوهنځي خوا ته لاړ.

شریف او د هغه ملګری دواړه د ځړول شویو لیسټونو خوا ته لاړل او په نوم لوستلو باندې یې پیل کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنئ سوداګره**

..........................

خپل نومونه يې د بریالیو په لیستونو لړلیک کې و نه موندل.

بیا د بې پایلو لیستونو خوا ته لاړل.

د هغوی نومونه د نا بریالیو(ناکامو) په لیستونو کې ول.

هغوی د لیستونو په لیدو سره خورا خپه او د هغه ځای نه د بېرته وتو هوډ وکړ او دواړه بېرته خپلو کورونو خوا ته روان شوو.

یوه ګړئ وروسته هغوی خپلو کورونو ته ورسېدل.

شریف کور ته د ننه شو.

پلار يې پر کټ، لمر ته ناست و.

شریف پلار ته نږدې او هغه ته يې سلام واچوه.

پلار يې د هغه سلام ته ځواب ورکړ.

بیا يې هغه ته و ويل:

د کانکور د آزموینې پایله څنګه وه؟

هغه و ويل:

مونږ لیستونه په ځیر سره وکتل، خو د نابریالیو په لیستونو کې زمونږ نومونه وو.

یانې په آزموینې کې بریالي نه شو.

پلار يې هم ډېر خواشینی شو.

خپل زوی ته يې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنئ سوداګره**

..........................

اوس به څه چل کېږي؟

هغه و ویل:

د کارټ موده هم مخ په خلاصېدو ده، زه اړین یم چې د عسکرۍ خدمت وکړم.

پلار یې و ویل:

الله دې رحم وکړي!

مونږ خو واسطه او پېژنده، د عسکرۍ په نظام کې نه لرو.

چا ته به ورشو؟

په دې وخت کې شریف ته ور په یاد شو چې یوه ورځ یې د یوه عسکر نه د عسکرۍ په هکله پته اخیستې وه.

هغه خپل پلار ته د هغه عسکر په هکله لنډه کیسه وکړه.

پلار یې و ویل:

توکل په خدای!

لاړ شه او د هغه سره خبره وکړه، بیا له ما سره، پایله یې شریکه کړه.

هغه و منه.

بیا د خبرو په ترڅ کې، مور یې هم راغله او د هغه د ناکامۍ نه خبره شوه.

هغه هم ډېره خپه شوه او ویې ژړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

بیا د شریف پلار هغې ته و ویل:

مه ژاړه!

اوس کار شوی دی.

هغه به عسکري وکړي، بیا به د کانکور آزموینه ورکړي.

هغې و ویل:

په هېواد کې عسکري کول آسانه کار نه دی.

جګړه ده.

لږ کسان ترې ژوندي پاتې کېږي.

بیا د شریف پلار و ویل:

مه خپه کېږه!

هغه ته یوه کس وعده ورکړې چې د کابل ښار کې به یې عسکر کړي او تر پایه به د کابل په ښار کې اوسي.

د شریف مور پوښتنه وکړه:

هغه کس خپلوان دی؟

د شریف پلار و ویل:

نه!

کوم عسکر دی چې د شریف سره دوې میاشتې مخکې، په ښار کې مخ شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

بیا یې و ویل:

مونږ خو نه زور لرو، نه زر او نه هم کومه واسطه.

ښه به دا وي چې لمړی شریف د هماغه عسکر سره و ویني او پایله یې زمونږ سره ګډه (شریکه) کړي.

په خبرو، خبرو کې ماښام شو.

ټول د لمانځه ادا کولو په خاطر سره بېل (جلا) شوو.

لمانځه نه وروسته، مور یې د شپې ډوډۍ تیاره او ټول خپه، خپه د دسترخوان څنډو ته راټول شوو.

د ډوډۍ په خوړو یې پیل کړل او هیچا د شریف په ګډون ډوډۍ د پخوا په شان و نه خوړه.

دستر خوان ټول شو.

مور یې چای راوړ.

شریف یوه پیاله چای وڅښه بیا وروسته بلې کوټې ته لاړ او د ماسخوتن د لمانځه نه وروسته بیده شو.

سهار وختي لمانځه ادا کولو د پاره له خوبه پاڅېد.

لمړی اودس بیا لمونځ یې په کور کې ادا کړ.

وروسته انګړ ته لاړ او د ګلانو او ونو په ننداره شو.

مرغۍ به ونو ته راتلې، څه موده به یې په ونو کې تېروې او بیا به الوتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنی سوداګره**

..........................

هغه هم په دې سوچ شو چې:

انسانان هم دنیا ته راځي، بیا لوېږي(غټېږي) وروسته بېرته مري.

هغه په سوچ کې و.

په دې وخت کې مور یې پر هغه غږ کړ او ویې ویل:

شریفه!

چای دم دی، راشه چای و څښه بیا هغه عسکر خوا ته لاړ شه.

هغه و ویل:

سمه ده مورې!

شریف کوټې ته د ننه شو او د دسترخوان خوا ته کېناست.

هغه سمه ډوډۍ هم و نه خوړه.

دوې پیالې چای یې و څښه.

بیا خپل کالي یې بدل او د کوره و وت.

لمړی یې ځان د کرېږ(قیر) سرک ته ورساوه او د سړک پر غاړې ودرېد.

موټر تېر، بېر کېدل او هغه د ټکسي موټر په انتظار و.

څو دکیکې وروسته ټکسي موټر راغی او شریف ورته لاس ورکړ.

ټکسي ودرېد او شریف ورته پته ورکړه.

چلونکي هغه ته و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنی سوداګره**

..........................

کېنه!

هغه ځای ما لیدلی دی.

شریف موټر ته وخوت او موټر سیمې خوا روان شو.

څنډ وروسته هغوی د عسکري قطعې دروازې ته ورسېدل.

چلونکي موټر ودراوه او شریف ته یې و ویل:

دا دې هم، ستا پته.

شریف د موټر کرایه ورکړه او د ټکسي نه کوز(کښته) شو.

بیا د عسکري قطعې دروازې ته ورغی.

الته دوې عسکرو پیره کوه او د ټوپکو سره ولاړ وو.

شریف هغوی ته نږدې شو او سلام یې ورکړ.

هغوی هم د شریف سلام ته وعلیکم و ویل.

بیا یې د شریف نه پوښتنه وکړه:

خیریت دی؟

هغه و ویل:

هو!

خیریت دی.

بیا یې کاغذ د جبه و ویست او هغه ته یې وړاندې کړ کوم چې د هغه عسکر نوم په کې لیکل شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

...........................

عسکر کاغذ واخیست او د هغه جلب او جذب عسکر نوم یې ولوست او ویې پېژاند.

بیا یې له شریف نه پوښتنه وکړه او ویې ویل:

ته د هغه خپلوان یې؟

شریف و ویل:

**نه!**

بیا یې په لنډه توګه تېره شوې کیسه هغه ته بیان کړه.

عسکر و پوښتل:

غواړې د هغه سره وګورې؟

شریف و ویل:

**هو!**

بیا عسکر شریف ته و ویل:

دلته د میز تر څنګ (شا) په څوکۍ باندې کېنه، زه به هغه ته مخابره وکړم چې لویې دروازې ته راشي.

شریف و منه، میز شا ته تېر شو او پر څوکۍ کېناست.

عسکر خپله مخابره د میز سر نه اوچته کړه او پر ټولي یې غږ کړ.

بیا یې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

خان عسکر دې لويې دروازې ته راشئ چې يوه کس د هغه د ليدو د پاره راغلی دی.

څو دکيکې تېرې شوې.

خان دروازې ته راغی او د شريف نه يې پوښتنه وکړه:

ته څوک او څه غواړې؟

هغه د دوې مياشتې مخکې کيسه ورته بيان کړه.

دهغه په ياد راغی او د لويې دروازې د عسکرو نه وغوښتل تر څو هغه ته اجازه ورکړی چې د هغه کوماندان سره و ويني.

د لويې دروازې عسکر، شريف تلاشي کړ او هغه ته يې د ننوتو اجازه ورکړه.

خان مخکې او شريف ورپسې شو.

دواړه روان او په کيسو يې پيل کړ.

په خبرو، خبرو د خان د کوماندان دفتر ته ورسېدل.

خان د خپل کومندان د دفتر دروازه وټکوه او بيا دروازه يې خلاصه او د ننه شو.

لمړی يې خپل کومندان ته سلامي و واهه، بيا يې شريف ته غږ کړ:

راځه!

ته هم د ننه شه.

شريف دفتر ته د ننه شو او کومندان ته يې سلام واچوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

کومندان هم د هغه سلام ته وعلیکم و ویل.

بیا خان د کومندان مخې ته پر څوکۍ کېناست او د شریف په هکله یې معلومات ورکړ.

کومندان و ویل:

شریف کولای شي سر له ننه دلته پاتې شي.

بیا یې د خپل دفتر آمر ته غږ کړ.

هغه راغی او کومندان ته یې سلامي و واهه.

هغه هم ورته خاص تعظیم وکړ.

بیا یې و ویل:

امر او خدمت؟

کومندان و ویل:

همدا اوس شریف څېره او اعاشه یې حواله کړه.

هغه و ویل:

سمه ده صیب!

بیا یې سلامي و واهه او شریف ته یې و ویل:

زما پسې راشه!

شریف د کومندان نه خدای پاماني واخیسته او د دفتر آمر پسې روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنئ سوداګره**

..........................

خان هم د دوی سره و وت.

په لاره کې يې و ويل:

شريف خورا ښه ځوان دی.

هغه زما دلګي ته راکړه.

د دفتر آمر و ويل:

سمه ده!

بيا يې د دفتر دروازه خلاصه او پر خپلې څوکۍ کېناست.

شريف او خان ته يې و ويل:

زما مخې ته پر څوکيو، کېنئ.

هغوی پر څوکيو کېناستل.

هغه ميز خانې نه فورمې راوويستې او په ډکولو يې پيل کړ.

فورمې يې ډکې کړې او بيا يې د شريف نه د تذکرې پوښتنه وکړه.

هغه خپله تذکره د دفتر آمر ته ورکړه.

بيا يې هغه ته و ويل:

دغه بل دفتر کې نايي (نايې، سلمان يا دلاک) شتون لري، الته لاړ او د سر وېښتان دې ماشين يا تراش (کل) کړه.

په دې وخت کې خان و ويل:

سمه آمر صيب!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به هغه وګرځوم او وروسته به يې بېرته راولم.

آمر و ویل:

سمه ده!

سر د جوړولو نه وروسته ۶ قطعې تور او سپين عکسونه هم له ځانه سره راوړه.

شريف و ويل:

سمه صيب!

شريف او خان د دفتر نه د باندې بيا نايي ته لاړل او خپل وېښتان يې تراش (کل) کړل.

بيا د قطعې نه د باندې شوو او د انځور اخيستنې هټۍ ته لاړل.

التـه يې ۶ قطعي انځورونه واخيستل.

وروسته بېرته قطعې ته د ننه شوو.

انځورونه يې د دفتر آمر ته ورکړل او آمر د شريف د اسنادو په بشپړولو پيل کړ.

هغه د شريف اسناد په ډېرې چټکۍ سره بشپړ کړل او بيا يې خان ته و ويل:

اوس کولای شئ، خپل دلګي ته لاړ شئ.

هغوی دواړه د دلګي خوا ته روان شوو.

په لاره کې خان د شريف نه پوښتنه وکړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

تا په کور کې ویلي دي چې نور کور ته نه راځې؟

هغه و ویل:

نه**!**

ما کور کې څه نه دي ویلي.

بیا خان و ویل:

زه به درته د رخصت تکټ جوړل کړم.

ته کولای شې، کورته لاړ شې.

سبا به د کورنۍ ټولو غړو سره خدای پاماني وکړې او سم صفا عسکر به شې.

شریف و ویل:

سمه ده**!**

اوس را ته د رخصت تکټ واخله تر ځو کور ته لاړ شم.

خان چې د دلګي مشر و، د دفتر آمر ته لاړ او د شریف له پاره یې یوه ورځنۍ رخصت تکټ برابر کړ.

د قطعې د کومندان امضا یې په تکټ کې ولګوله او وروسته بېرته د دفتر آمر کوټې ته لاړ.

تکټ یې ټاپه او شریف ته یې ورکړ.

هغه ته یې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

...........................

که کوم انظباط عسکرو ستا نه د اسنادو پوښتنه وکړه، ورته و وایه چې زه نن څېره شوم.

اوس کور ته د خدای پامانۍ په خاطر ځم اوسهار وختي بېرته قطعې ته راځم.

بیا کولای شئ دا تکټ ورته ښکاره کړې.

شریف خوشحاله شو او د خان نه یې مننه وکړه.

شریف قطعې نه د باندې او خپل کور خوا ته روان شو.

ځان ورته بل ډول ښکارېده.

سر یې هم کل او سپک شوی و.

ګړې وروسته خپل کور ته ورسېد.

په کوڅه کې ماشومانو پر هغه خندل پیل کړل او ویل یې:

شریف هم عسکر شو.

څومره بد ښکاري.

د هغه څه ښه، وېښتان ول.

مونږ به ورته کاکلي شریف ویل.

شریف هم خورا خپه و.

بله کومه لاره یې نه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

...........................

که چېرې په پوهنتون کې بريالی شوي وی، هغه به د زده کړو تر پايه کولاې شو چې تعجيل تر لاسه کړي.

شريف ماشومان ته څه و نه ويل، ځکه کومه ګټه يې نه درلوده.

هغه خپل کور دروازې ته لاړ.

دروازه يې ټېلوهه.

دروازه بنده وه.

بيا يې دروازه و ټکوه.

مور يې دروازې ته راغله او دروازه يې خلاصه کړه.

ويې ليد چې د شريف سر خرلی دی.

هغه يې په غېږ کې ونيو او هغه ته يې وژړل.

شريف د خپلې مورې اوښکې پاکې کړې.

بيا يې هغې ته و ويل:

مه ژاړه مورې!

اوس زه عسکر شوم.

په مياشت کې به يوه ځل کور ته راځم، هغه هم د يوې شپې له پاره.

مور يې څه و نه ويل.

هغه ډېره خپه شوه.

بيا يې زوی ته و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنئ سوداګره**

..........................

راځه!

کوټې ته راشه!

هغه کوټې ته د ننه شو.

پلار يې په کوټه کې ناست و.

هغه خپل پلار ته سلام واچوه.

پلار يې هم د هغه سلام ته وعليکم و ويل.

بيا يې ورته و ويل:

لکه چې عسکر شوې؟

هغه و ويل :

هو پلاره!

عسکر شوم.

بيا يې هغه ته و ويل:

دلته زما ځنګ ته کېنه!

شريف د خپل پلار ځنګ ته کېناست.

بيا پلار يې د خپلې عسکرۍ کيسې ورته، وکړې.

هغه ته يې د افسران د رسم او تعظيم په هکله، د سلاح د ساتنې، پيرې او ګزمې په هکله معلومات ورکړل.

شريف هم د هغه خبرو او نصيحتونو ته، غوږ نيولی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

څه وخت تیر او د شپې د ډوډۍ وخت ورسېد.

مور یې دستر خوان اوار (هوار) کړ.

وچه ډوډۍ او سابه پر دسترخوان کېښودل شو او د کورنۍ نور غړي هم د دستر خوان شاوخوا کېناستل.

ټولو به د شریف سر ته کتل، کوم چې هېڅ وخت یې په داسې حال (کل سر) نه و لیدلی.

کوچني ورونو اوخویندو به یې خندل.

بیا به د هغه مور یا پلار پر هغوي په غصه کېدل او ماشومان به یې چپول.

شریف د شپې وختي بیده شو او سهار وختي له خوبه پاڅېد.

لمړی یې لمونځ ادا بیا یې وروسته د سهار چای وڅښل.

د کورنې د غړو نه یې خدای پاماني واخیسته او د کورنه د باندې شو.

په لاره کې د ګزمې موټر د هغه تر خوا ودرېد (برک ونیو) او د هغه نه یې پوښتنه وکړه:

ځوانه!

اسناد لرې؟

هغه و ویل:

هو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

**كوشنۍ سوداګره**

...........................

بيا عسکرو وپوښتل:

راکړه چې ويې ګورو.

هغه د رخصت تکټ عسکرو ته ورکړ.

هغوی د تکټ لاندې او باندې په ځير سره وکوت، بيا يې هغه ته و ويل:

بيشکه!

ښه واسطه لرونکی، سړی يې.

په لمړۍ ورځ دې رخصت اخيستی دی.

کېدای شي چوب خطي (قراردادي) اوسې.

شريف و ويل:

زه پرون څېره او کور کې مې چا ته نه وو ويلي.

د غريب سړي زوی او په کور کې ټېلفون هم نه لرم.

بيا نا چاره مې د رخصت تکټ واخيست او کور ته لاړم.

شپه مې په کور کې و کړه، سهار مې کورنۍ د غړو سره خدای پاماني وکړه او دا دی اوس بېرته عسکرۍ ته ځم.

بيا هغوی په خندا او شريف ته يې تکټ بېرته ورکړ او ويې ويل:

د مور شيدی دې شه.

شريف څه ونه ويل او خپلې لارې ته يې دوام ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

د بس تم ځای ته ورسېد او څو دکیکې وروسته موټر ته وخوت.

لمړی د ښار مرکز بیا وروسته خپلې قطعې ته لاړ.

د قطعې په انګړ کې یې خان ولید او د هغه سره یې روغبړ وکړ.

بیا دواړه، خپل ټولي ته لاړل.

نظامي درسونه پیل شول.

هغه د عسکرۍ نظام، کاغوش، د سلاح نیولو، پهرې، ګزمې، تمرین، انداخت او داسې نورو شیانو سره آشنا (بلد) شو.

دوې میاشتې تېرې شوې.

هغه د دوو ورځو له پاره کور ته لاړ.

شریف د جلا کورۍ او د کور غړو یې د هغه په جلاتوب سره ورو، ورو عادت کېدل.

څو میاشتې تېرې شوې.

یوه ورځ هغه د خان څخه و پوښتل:

زما عسکري به څو کاله وي؟

هغه و ویل:

راځه!

دواړه به لاړ شو او دفتر د آمر نه به پوښتنه وکړو.

شریف و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

سمه ده!

هغوي دواړه د دفتر آمر خونې ته د ننه شوو.

لمړی يې عسکري تعظيم وکړ، بيا آمر هغوی ته د ناستې بلنه ورکړه او و يې ويل:

څه خدمت وکړم؟

خان و ويل:

شريف يوه پوښتنه لري.

آمر و ويل:

څه پوښتنه؟

شريف و ويل:

زه به څومره دلته عسکري وکړم؟

آمر و ويل:

څرنګه چې پو هېږې دا قطعه غيرې محارب قطعه ده، که چېرې په محارب قطعه کې دوې کاله عسکري وي، نو دلته د هغه دوي ځلي ډېره يانې څلور کاله ده.

شريف د دې خبرې په اورېدو سره ډېر خواشينی شو.

بيا يې د آمر نه مننه وکړه او د هغه د دفتر نه د باندې شو.

خان هم د آمر نه خدای پاماني واخيسته او د شريف پسې روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

خان، شریف ته و ویل:

بس!

څه به وکړو.

خان و ویل:

زما د عسکرۍ دوې کاله کیږي او تر اوسه یې د پای درک نه لږیږي.

ما د خپلې کورنۍ سره خبره وکړه او هغوی ته مې و ویل:

تر څو به عسکري کوم؟

ښه به وي چې صاحب منصب شم او معاش ولرم.

هسي د ګور په غاړه یوو، نن یا سبا مرګ دی، ښه به وي چې په مړه خېټه مړه، شو.

بیا شریف و ویل:

تا اجازه تر لاسه کړه چې صاحب منصب شې.

خان و ویل:

هو!

بله لاره نه وه.

اوس کوښښ کوم چې په همدې قطعې کې صاحب منصب شم.

بیا یې شریف ته و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

ته ځنګه؟

غواړې چې ته هم صاحب منصب شې؟

هغه په سوچ کې شو او و ویې ویل:

زه په دې هکله د کورنۍ سره خبرې کوم، بیا به پرېکړه وکړم.

څه وختونه تېر شو.

د شریف پلار ته هم یوه ناروغي پیدا او د دندې یې تقاعد واخیست.

دهغه د کورنۍ نورغړي هم کوچني او زده کونکي وو.

مور یې هم بې زده کړې وه.

په اطراف کې یې څه ځمکه درلوده، هغه یې هم خرڅه کړه.

ورځ پر ورځ پر شریف بوج ډېرېده او هغه د عسکرۍ تنخواه یوازې دوې سوه افغانۍ وه، کومه چې د هغه د سګرټو پیسې هم نه کېدې.

شریف هم د خپلې کورنۍ سره مشوره وکړه او د کورنۍ نه یې د صاحب منصب کېدو اجازه واخیسته.

هغه هم د خان په څېر هماغه قطعې کې د افسرېدو غوښتنه وکړه.

څه موده وروسته هغه هم البته افسر(صاحب منصب) شو.

شریف به سهار قطعې او د شپې به کور ته، ته.

هغه د معاش خاوند شو.

د معاش پیسې به یې خپلې مور ته ورکوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

مور به یې د هغه د معاش پیسې په دوې برخو وېشې.

یوه برخه به یې د کور خرڅه کوه او بله برخه به یې د هغه د پاره ساتې چه په راتلونکي کې ورته ښځه او د هغه کور ودان کړي.

څو کاله تېر شو.

مور یې شریف ته و ویل:

وخت تېرېږي.

زه او ستا پلار هم مخ په زړېدو یو.

ښه به وي چې تا ته په یوې ښې کورنۍ کې د کوژدې بندو بست وکړو.

شریف و ویل:

دا ښه خبره ده، خو دې کار ته د پیسو اړتیا شته.

زه خو پیسې نه لرم.

دومره معاش لرم چې د کور خرڅه شي.

مور یې په خندا شوه او ویې ویل:

ما ستا معاش په دوي برخو وېشل.

یوه برخه مې د کور خرڅه او بله مې ستا راتلونکي د پاره ساته، اوس مې پیسې راټولې کړی او غواړم چې ستا کور پرې ودان کړم.

هغه و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

ستا خوښه!

هر څه چې د خدای رضا او ستا خوښه وي.

زه په کې څه نه وایم.

موریې هم خوشحاله شوه.

څو ورځې وروسته یې د هغه له پاره د راییارۍ کار پیل کړ.

هر چېرې به چې د راییارۍ له پاره تلل، د هغې نه به یې د هغه د زوی دندې پوښتنه کوه.

هغه نا چاره وه چې رښتیا و وایي.

بیا به چې کورنۍ خبرېده د نه ځواب به یې ورکاوه او ویل یې:

ستا زوی افسر دی، کورنۍ جګړه هم په چټکۍ سره روانه ده، هغه به مړ او زمونږ لور به کونډه شي.

بیا به هغه بېرته خپل پلار کورته د ماشومانو سره راشي.

د شریف مور به خپه کېده.

یوه ورځ شریف خپلو عسکرو سره د کابل ښار یوې ولسوالۍ ته عملیاتو د پاره لاړ، چېرې چې مجاهدینو شتون درلود.

هغوي په یوه کلي کې کلا بند شوو او نږدې وو چې ټول خپل ژوند د لاسه ورکړي.

د عملیاتو په ترځ کې شریف هم په سر په مرمۍ ولګېد او ټپي شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

هغوی د مرستې له پاره د مرکز نه د چورلکو (هلیکوپټرو) غوښتنه وکړه.

لږ ځنډ وروسته چورلکې ورسېدې او په ډزو یې پیل کړ.

مجاهدینو کلابندي خوشی او ځانونه یې د ساحې نه لرې کړل.

بیا چور لکې په ځمکه کېناستې او ټول عسکر یې د شریف په ګډون په چورلکو کې پورته او ښار ته یې ولېږدول.

بیا یې شریف د یوه امبولانس په مرستې څلورسوه بستریز روغتون ته ولېږداوه.

شریف په سرسري ټوګه ټپي شوی وه او د یوې اونۍ وروسته بېرته خپلې دندې ته دوام ورکړ.

موریې د دې حادثې نه خورا خواشینې شوه او د شریف د رایبارۍ کارې یې، چټکې کړې.

د شریف مور به چې هر چېرې تله، خالي لاس به بېرته ګرځېده.

څومیاشتې تېرې شوې.

هغې په خپلو او خپلوانو کې کومه نجلۍ و نه مونده او زړه یې صبر شو.

بیا یې د بېګانوو دروازې و ټکوې، الته هم کومه ښه پایله یې تر لاسه نه کړه او په پای کې مجبوره شوه چې درواغ و وایي او خپل زوی انجینر معرفي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

څو میاشتې تېرې شوې او هغه وتوانېده خپل زوی ته په یوې بیګانه او غریبې کورنۍ کې یوه نجلۍ پیدا کړي.

څه موده تېره شوه.

بیا یې شریف ته کوژده وکړه.

کال وروسته یې هغه ته واده وکړ.

هغوي د خوشحالۍ نوې شېبې پیدا او په خوښۍ یې خپل ژوند پیل کړ.

درې میاشتې وروسته د جلۍ کورنۍ پوی شوه چې شریف انجینر نه، بلکه افسر دی.

هغوی ته پښیماني کومه ګټه نه درلوده او مجبوره ول چې ژوند او مناسباتو ته، دوام ورکړي.

شریف په خپلې دندې کې خوشحاله و.

کال وروسته خدای هغه ته یوه ښکلې لور ور په برخه کړه، خو هغه لږ د پښو نه معیوبه وه.

پر هغې یې نوم سنځله کېښوده.

دوې کاله وروسته هغه ته خدای بله لور، بیا بله، بیا دریمه، څلورمه

او پنځمه لور ورکړه.

د هغوی ژوند په خوشحالۍ سره تېرېده.

پوره لس کاله تېر اومشره لور یې هم نهه کلنه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

شریف ته څه ناروغۍ پیدا شوه او د تداوۍ لاندې و.

کال وروسته یې پلار ناروغه، شو.

د هغه یې دوایی وکړه.

هغه ښه نه شو.

دوې میاشتې وروسته، شریف خپل پلار د لاسه ورکړ.

کورنۍ جګړې پیل شوې او د کور نه بل هېواد ته کډوال شو.

دوي کاله وروسته څه رڼایي شوه او کابل ښار کې جګړې کمې (لږې) شوې.

هغه هم د نورو کسانو په څېر، بېرته خپل کور ته ستون شو.

د کور ډېری برخې یې، ورانې شوې وې.

هغه د خپلې ښځې او ماشومانو سره په خپل کور کې کار وکړ او هغه یې یو څه ورغاوه.

دندې بیا پیل شوې.

شریف چا بېرته په کار و نه نیوه.

بدلون راغلی و.

هر چا به خپل دوستان او خپلوان پر دندو ګمارل.

هغه هم کوښښ وکړ تر څو خپله دنده بېرته تر لاسه کړي، مګر د هغه د دندې له پاره د پیسو ورکولو (رشوت) وړاندیز وشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

هغه پیسې نه درلودې او مجبوره شو چې د دندې نه لاس پر سر او یا لاس پرېمنځي.

هغه به سوچونه وهل او کومه د حل لاره یې و نه مونده، بیا یې د ښځې او ماشومانو سره مشوره وکړه تر څو د ژوند کولو د پاره څه وګټي او ویې خوري.

ټولو ورته مشوره وکړه تر څو هټۍ واني (دکانداري) وکړي.

هغه و ویل:

سمه ده!

خو د هټۍ واني له پاره پیسو ته اړتیا شته.

مونږ خو پیسې نه لرو.

بیا ښځې یې و ویل:

زه د خپلو ورونو نه څه پیسې پور اخلم په هغه به کاروبار پیل کړو ، وروسته خدای مهربانه دی.

بیا شریف و ویل:

هټۍ وانۍ ته دوې کسان په کار دي، زه خو زوی هم نه لرم چې زما ما سره مرسته وکړي.

مشرې لور یې و ویل:

زه در سره، مرسته کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کوشنۍ سوداګره

...........................

کله چې ته د سودا اخیستلو د پاره ښار ته ځې، زه به په هټۍ کې سودا خرڅه کړم.

شریف ومنه.

سبا د شریف ښځه، خپلو ورونو کور ته لاړه او د هغوی نه یې د مرستې غوښتنه وکړه.

هغوی هم چندان پیسې نه درلودې او هغې ته یې پوره زر افغانۍ ورکړې چې شریف وربانديې د سړک پر سر کار وکړي.

هغه مازیګر ښېرته خپه ستنه شوه.

شریف ترې پوښتنه وکړه چې:

څه پیسې دې پور کړې؟

هغې په خواشینۍ سره و ویل:

زما د ورونو روزګار هم خراب و.

هغوی ما ته زر افغانۍ راکړې او ویې ویل:

شریف کولای شي پر دې پیسو د سړک په غاړه ترکاري و پلوري.

په راتلونکي کې، که چېرې پیسې مو لاس ته راغلې، بیا به یې شریف ته هرو مرو ورکړو.

شریف خوشحاله شو او د کورنۍ غړو ته یې و ویل:

سمه ده، زه به سهار وختي مارکېټ ته لاړ شم او د هغه ځای نه به ترکاري وپېرم، بیا به یې کور ته راوړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنی سوداګره**

..........................

ټول به يې په ګډه (شريکه) پاکه کړو.

بيا به زه او د ماشومانو مور هغه بڼه و مينځو.

وروسته به يې د سړک غاړې ته و باسو او په پلور به يې پيل کړو.

شريف دا کار پيل کړ.

په لمړۍ ورځ يې څه و نه ګټل.

ماښام هغه خپه کور ته وګرځېد او پاتې ترکاري يې هم له ځانه سره بيرته راوړه.

بيا يې ښځې ته و ويل:

دا کار زما په تاوان ده.

خلک وختي تر کاري اخلي.

زه لمړی مارکيټ ته ځم بيا وروسته کورته ترکاري راوړم.

کورکي هغه پاکوو، مينځو بيا غرمې ټيم ته ترکاري سړک غاړې ته وړم.

د دې کبله زما د ترکارۍ کاروبار سسست او د پام وړ نه دی.

بيا يې مشرې لور و ويل:

پلاره!

دا ترکاری سړک غاړې ته يوسه، زه به ترکاري وپلورم او ته کولای شې مارکېټ ته لاړ او تازه ترکاري په نېغه (مستقيمه) توګه سړک

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

غاړې ته راوړي، دلته به يې په ګډه (شريکه) پاکه کړو، ګوندې په داسې کار کې څه ګټه وکړو.

پلار يې ومنه.

لمړی يې ترکاری د سړک غاړې ته يوړه او لور يې د ترکارۍ خوا ته کېناسته.

پلار يې هم د تازه ترکارۍ د اخيستلو له پاره مارکېټ ته لاړ.

هغې د ترکارۍ پر خرڅولو پيل کړ.

سهار وختي و.

خلک د ترکارۍ د اخيستو له پاره راتلل او ترکاري به يې اخيسته.

ډېری بډای خلکو که ترکارۍ ته اړتيا هم نه درلوده، موټر به يې د کوچنۍ او معيوبې جلۍ خوا ته دراوه او ترکاري به يې اخيسته.

هغه په دې ورځې وتوانېده، ټوله ترکاري وپلوري.

پلار يې د مارکېټ نه تازه ترکاري راوړه، ګوري چې لور يې ترکاري خلاصه کړې ده.

هغه ډېر خوشحاله شو.

بيا يې نوې ترکارۍ پاکه کړه او د پلور له پاره يې چمتو(آماده) کړه.

خلک به راتلل او د هغې جلۍ نه به يې ترکاري اخيسته.

هغه خورا مشهوره شوه.

د هغې مور به هم پيسې ټولوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

څه به يې د کور خرڅه کوه او نورې به يې ساتې چې پرې دکان جوړ او د سړک د غاړې خاورو، دوړو، باران، واورې، يخنۍ او تودوخۍ نه خلاص شي.

ځو کاله تېر شو.

د شريف سره بله لور يې هم ملا وتړه او د خپلې مشرې خور او پلار سره په کار لاس پورې کړ.

هغوی به په ګډه د سړک پر غاړې کار کوه او حلاله روزي به يې ګټه.

هغوي څه پيسې و ګټې.

بيا د هټۍ په سوچ کې شوو.

کال وروسته يې د کور انګړ ته څېرمه هټۍ جوړه کړه.

لمړی يې په هغه کې د ترکاری کاروبار پيل کړ.

دا کار د دوي په ګټه نه و.

د هغو هټې ته نږدې نورې د ترکارۍ خرڅولو هټې هم وې.

بيا يې هوډ وکړ چې د ترکارۍ تر څنګ د کورو او کليو نور د اړتيا وړ شيان هم وپلوري.

هغوی ورو، ورو نور شيان د خرڅولو د پاره په هټۍ کې ډېر کړل.

هغوی نوي او ډېر پېرودونکي يې وموندل.

ډېری خلک به راتلل او د هغوی د هټۍ نه به يې سودا اخيسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

نجوني هم پېغلې شوې.

پلارېږ هغوي د هټۍ نه منه (منع) کړې.

یواځې هغه معیوبه جلۍ چې نوم یې سنځله وه د خپل پلار په نه شتون، په هټۍ کې یې سودا خرڅوه.

هغه ډېره ښکلې وه.

ځینو به د هغې د لیدو د پاره د هغې د هټۍ نه سودا اخیسته.

د هغوی په روزګار کې څه بدلون راغی.

ژوند یې لږ ښه شو.

کار او بار دوام درلود.

څه وخت تېر شو.

د سنځلې د پاره رایباران راغلل.

د هغې مور د رایبارانو نه وپوښتل:

الک څه کار کوي؟

رایبارانو و ویل:

هغه افسر دی.

د شریف ښځې چې د عسکرۍ نه یې ښه یاد نه درلود، ډېره خواشینې او هغوی ته یې د نه ځواب ورکړ.

رایباران هم د کوره خپه و وتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

څه موده تېره شوه بیا نور رایباران راغلل.

د هغوی زوی هم د پولیسو افسر و.

د شریف ښځې هغوی ته هم د نه ځواب ورکړ.

کال تېر شو.

بیا د سنځلې  په اړه رایباران راغلل.

هغوی و غوښتل چې سنځله و ویني.

د شریف ښځې و ویل:

تاسو پوهیږئ چې سنځله په پښومعیوبه ده؟

هغوی و ویل:

نه!

بیا د شریف ښځې و ویل:

کولای شئ، هغه د نږدې وګورئ.

هغوی سنځله د نږدې و کتله او د هغې په معیوبیت پوی شوو.

بیا یې د شریف ښځې ته و ویل:

آیا د تداوۍ امکان یې شته؟

هغې ځواب ورکړ:

نه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

که امکان يې درلودی، مونږ به خپل ځان خرڅ کړی وای او د هغې دوا به مو کړې وای.

رایباران ډېر خواشينې شوو او هغې ته يې و ويل:

کېدای شئ، ستاسو دويمه لور وګورو؟

هغه په ژړا شوه او ويې ويل:

هو!

رایبارانو هغه هم ولیده.

هغه د سنځلې په شان ښايسته نه وه.

بيا رایبارانو و ويل:

افسوس او سل افسوس!

رښتيا ده چې خدای هر چا ته ټول شيان نه ورکوي.

د سنځلې ښايست، مګر د پښو معيوبيت.

بيا رایبارانو د شريف دوېيمه لور خوښه کړه.

وروسته يې د شريف ښځې ته و ويل:

د مجبوريت په اساس که تاسو خپله دوېيمه لور مونږ ته راکړئ، مونږ به خوشحاله د تاسو له کور نه و ځو.

د شريف ښځې د رایبارانو نه پوښتنه وکړه:

ستاسو زوی څه کار کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

هغوی و ویل:

زمونږ زوی د دولسم ټولګي نه فارغ شوی او څه شخصي کارو بار لري.

د شریف کورنۍ د رایبارانو نه څه وخت (مهلت) واخیست ترڅو پوښتنه وکړي، په رښتیا سره هغه د دولسم ټولګې نه فارغ شوی او شخصي کاروبار لري؟

رایبارانو و ویل:

سمه ده!

مونږ کومه ستونزه نه لرو.

تاسو کولی شئ، یوه نه، بلکې ډېرې پوښتنې وکړئ.

رایبارانو چای وڅښل، د شریف د ښځې نه یې خدای پاماني واخیسته او خپل کور ته لاړل.

شپه شوه.

هغوی د خپلو منځو کې سره مشورې وکړې.

بیا سبا ته د شریف ښځه د رایبارانو کوڅې ته لا ړه او د کرایې کور په پلمه یې د هغه الک په هکله معلومات تر لاسه کړل.

په پایله کې هغې ومونده چې په رښتیا سره د رایبارانو خبره سمه وه.

هغه بېرته کور ته لاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنی سوداګره**

..........................

د شپې يې کيسه، ټولې کورنۍ سره ګډه کړه.

هغوی و ويل:

که چېرې هغوی بيا راشئ، نو د دوبيمي جلۍ دسمال به ورته ورکړو.

اونۍ تېره شوه.

هماغه رايباران بيا راغلل.

د شريف ښځې هغوی ته چای او خوږې کلچې راوړې.

په خبرو، خبرو کې يې بيا د جلۍ خبره ياده کړه.

رايبارانو و ويل:

تاسو ويلي وو چې د الک په هکله معلومات اخلو.

د شريف ښځې و ويل:

هو!

مونږ معلومات واخيستل.

هغه په رښتيا د دولسم ټولګي نه خلاص (فارغ) او شخصي کاروبار لري.

بيا رايبارانو و ويل:

کولای شو بيا راشو؟

د شريف ښځې و ويل:

هو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

بل ځل له ځانه سره نارینه هم راولئ.

هغوی چای و خښل او د شریف د ښځې نه یې خدای پامانې واخیسته او د هغوی د کور نه و وتل.

څو ورځې تېرې شوې.

رایبارانو دا ځل له ځانه سره نارینه هم راوستل.

په دې ورځ کې شریف هم له هټۍ نه وختي راغلی و،هغه د نارینوو سره کیناست.

خبرې ډېرې شوې او د چای د څښلو نه ورسته د شریف ښځې دسمال په پطنوس کې راوړ.

د دسمال په منځ کې شیرینی، نقل او چاکلېټ هم ول.

هغې دسمال د نارینه میلمانو مخې ته کېښود، ځکه هغوی کوم زوی یا نارینه، نه درلود.

هغوی دسمال واخیست او په پطنوس کې یې څه پیسې هم کېښودې.

بیا له ځای نه پاڅېدل او د هغوی نه یې خدای پامانې واخیسته او د کوره د باندې شول.

څنډ وروسته هغوی خپل کور ته ورسېدل او په خوشحالۍ سره خپل کور ته ننوتل.

د شپې یې، ښځو دایرې (ټمبل) و واهه او بدلې یې هم و ویلې.

میاشت وروسته یې کوژده وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

په کوژدې کې يې ډول او سرنى هم راوړی و.

کال تېر شو.

نوي دوستان، د واده پرېکون له پاره راغلل.

د شريف کورني د نورو فرمايښتونو تر څنګ د واده مراسم په هوټل کې نيول، په ليسټ کې ګډ کړل.

هوټل وټاکل شو.

د دواړو دوستانو له پاره کارټونه هم وليکل شو.

د واده وخت هم وټاکل شو.

دوستان او ميلمانو ته کارټونه ولېږدول شو.

نجلۍ ته د واده مناسبه جامې او يوه اندازه سره زر هم واخيستل شو.

واده تر سره شو او په واده کې سنځلې هم برخه اخيستې وه.

ځينې ښځې به د هغې ننداريې ته تلې او ټولو به د هغې د ښايست افسوس کوه.

د شريف دوېيمه لور په ښه مراسمو سره واده او د بخت کور ته لاړه.

بيا څه وخت تېر شو.

د هغې درېيمې لور په خاطر هم رايبارانو راتګ پيل شو.

رايبارانو به لمړی د سنځلې ليدنه کوه او د هغې معيوبيت نه چې خبرېدل، ډېر به مايوس (نا امېده) کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

د هغې درېیمه لور هم د دوېیمې په شان واده شوه.

د هغوی مشره لور او دوې نورې کشرې پاتې شوې.

د شریف دوې کشرې لورګانې ډېرې وړې (کوشنۍ) وې.

هغوی خپل کاروبار ته دوام ورکوه.

څه موده تېره شوه.

شریف ته یوه نامعلومه ناروغي، پېدا شوه.

هغوی چې څه ګټل، څه به یې د کور خرڅه او په نورو پیسو به یې د شریف دوایي کوه.

شریف هم ډېر تشویشي شوی و.

لږ به چې پر هغه فشار راغی، ډاکټر ته به یې منډې وهې.

ډاکټرانو به هغه ته نسخې ورکوې او هغه به هم له درملتون نه نوې دواګانې اخیستې.

پوره پنځه کاله تېر شو.

شریف د زړه ناروغۍ هم پیدا کړه.

د هغه تشویش نور هم ډېر شو.

دوې کاله وروسته په شریف د زړه حمله راغله.

کورنۍ یې هغه یوه روغتون ته ورساوه، مګر کومه ګټه یې و نه کړه او زړه یې ودرېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

خپل او خپلوان یې خبر شوو.

د هغه جنازه یې په ښه مراسمو سره، تر سره کړه او هغه یې د اتمې ناحې (سیمې) په یوې هدیرې کې، ښخ کړ.

بیا یې زومانو په ساده توګه د هغه د درېیمې ورځې خیرات او هغه فاتحه یې په نږدې ماجت کې واخسته او ګڼ شمېر دوستانو یې په کې ګډون کړی و.

شریف د ډېری خلکو په زړونو کې ځای نیولی وه او خلک د هغه په مړینه ډېر خپه شول.

څلور کاله وروسته د هغې څلورمې لور له پاره رایباران راغلل د هغوی زوی نظامي افسر و.

د شریف ښځې د نور لور ګانو په شان د هغه الک پته تر لاسه او د هغه په هکله یې معلومات تر لاسه کړل.

هغه ښه کس نه وه او د نېشه یې توکو معتاد و.

د شریف ښځې د خپلې لور د ورکړې نه ډډه وکړه او هغوی ته یې د نه ځواب ورکړ.

څه موده تېره شوه.

بیا نور رایباران راغلل.

د هغوي الک هم افسر و.

په دې وخت کې حالات څه ښه شوي و.

جګړې ډېرې نه وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

دا ځل بیا هم الک د پولیسو افسر و.

د شریف ښځې هغوی ته و ویل:

ستاسو ځوی څه کار کوي؟

هغوی و ویل:

زمونږ زوی د پولیسو افسر دی، مګر خورا ښه او دینداره سړی دی.

د شریف ښځې و ویل:

کولای شم د هغه په هکله پوښتنه وکړم؟

رایبارانو و ویل:

هو!

ولې نه!

سل ځل یې پوښتنه وکړئ.

مونږ چا ته دروغ نه وایو.

تاسو په خپله کولای شئ چې د هر چا نه پوښتنه وکړئ.

بیا د شریف ښځې د رایبارانو نه، څه وخت واخیست.

هغوی هم و منه او د چای د څښلو نه وروسته خپل کور ته روان شوو.

سبا بیا د شریف ښځې د هغوی پته و مونده او د هغوی دېری ګاونډیانو نه یې پوښتنې وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

ګاونډیانو هم د رايبارانو خبره تاييد (تصديق) کړه.

هغه بېرته خوشحاله کور ته راغله او د کورنۍ غړو ته يې د خپل راپور وړاندې کړ.

د کوزنۍ نور غړي هم خوشحاله شوو.

څو ورځې تېرې شوی او هغه رايباران بيا راغلل.

دوی هم د وعدې سره سم هغوی ته ساده دسمال (لوز) ورکړ.

میاشت وروسته د ښځو سره نارينه هم د لوی دسمال اخيستو له پاره راغلل.

د شريف ښځې هغوی ته لوی دسمال ورکړ.

په دې مراسمو کې د مرحوم شريف زومانو هم ګډون کړی و.

رايبارنو په خوشحالۍ سره دسمال او خوږه واخيسته او څه پيسې يې په پطنوس کې کېښودې.

بيا يې خدای پاماني واخيسته او د کور نه و وتل.

څه موده تېره شوه، لمړی يې کوژده وکړه، بيا وروسته د دوو کالونو نه وروسته واده هم وکړ.

د هټۍ کارونه د سنځلې او د هغې د آخرې(وروستنۍ، پايلې) خور په غاړه شوو.

د هټۍ په سودا اخيستو کې به د هغوی سره زومانو هم مرسته کوه.

وختونه تېرېدل او هغوی هم د هټۍ له لارې خپله خرڅه برابروه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

هټۍ کې يې شيان هم ډېر کړل.

په هټۍ کې به کله سنځله او کله به د هغې کوشنۍ خور د سودا خرڅلو د پاره کېناستل.

هغوی په ډېر اخلاص او لږو ګټو شيان پلورل.

د هغوی د هټۍ پېرودونکي هم ورځ تر بلې زياتېدل (ډېرېدل).

هغوی دوې کاله وروسته يوه کوچنۍ کور په ټولو شويو پيسو واخيست کوم چې په يوه اړخ کې يې کوځه وه.

هغوی به وختي د کوره وتل او هټۍ ته تلل، د چای څښلو د پاره يې له ځانه سره د چای ترموز(لوښی) هم وواړ، پيالې يې په هټۍ کې وې.

کله نا کله ځيني ښځې او يا نجونې به د هغوی په هټۍ کې کېناستې او غورې به يې کوې.

سنځلې به هم هغوی ته چای اچاوه او د ممپليو غاب به يې د هغوی مخ ته کېښوده.

هغوی به هم په پای کې د خپل د کور اړتيا وړ شيان پېرودل (اخيستل) او کور ته به يې وړل.

مور به يې هم هغوی ته د غرمې ډوډۍ او بل ترموز کې به يې تازه چای وواړ.

ورځې شپې او شپې سبا کېدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

هغوی لږې پیسې ټولې او د کور اړخ ته، کوم چې د کوڅې خوا ته پروت و، یوه کوچنۍ هټۍ جوړه او د تنګ راتګ نه خلاص شول، کوم چې کله، ناکله به د کوڅه ډبو سپیانو او الکانو سره مخ کېدل.

هغوی به یې زورول او الکانو به هم پر هغوی پرزې ویلې.

هټۍ کوشنې وه.

دوی به ډېره سودا له مارکېټ او منډیي څخه هم نه راوړه تر څو خرابه، نه شي.

سنځله او د هغې کوچنۍ خور په سوداګرۍ کې خورا مهارت موندلی وو.

هغوی پوهېدل چې په کلي کې خلک څه شي ته اړتیا لري او څه اخلي.

هغوی به هم د اړتیا وړ شیان اخیستل او په هټي کې به یې پلورل.

هغوی هټۍ ته د انګړ د خوا لاره ورکړې وه.

هغوی به تر ناوخته په هټۍ کې پاتې کېدل او پس له ماښام نه چې نورې هټۍ به بندېدې، د هغوی هټۍ به خلاصه وه.

خلکو به ترې سودا کوه.

د سنځلې کشره خور به د الکانو جامې اغوستې او خلکو به سوچ کوه چې هغه الک دی.

د نوې هټۍ په جوړولو سره د هغوي په کار او بار کې آسانیاوې راغلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

مور يې هم اوبدلو او خياطۍ ته مخه وکړه.

هغې به هم د ماشومانو او ښځو جامې ګنډې او د کور خرڅ کې به يې مرسته کوه.

د ګنډلو ماشين يې د يوې خيرې موسسې له خوا تر لاسه کړی و.

څه وختونه تېر شو.

هغې سنځلې او خپلې کوشنۍ لور ته د کاليو ګنډل او اوبدل ورزده کړل.

هغوی به هم د وزګارتيا په وخت کې، په ګنډلو او اوبدلو لګيا وې.

هغوی په کور کې د خياطۍ کورس هم جوړ کړ.

د شريف ښځې به نجونو ته سبق و ويل او يوه څه پيسې به يې هم ګټې.

د هغوی روزګار ورځ په ورځ مخ په ښه کېدو شو.

هغوی د هټۍ تر څنګ بله هټۍ هم خلاصه او الته به يې خياطي هم کوه.

په ژوند کې ډېر خوشحاله وو.

کله به يې د پلار آرمان کوه او ويل يې:

کاشکې زمونږ پلار ژوندی وی.

هغه به اوس آرامه وی.

مونږ به د هغه خدمت کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

اوس مونږ کوشنی کور او دوې هټۍ لرو.

ټول لګیا (مصروفه) یوو.

څه وخت تېر شو.

د شریف ښځه ناروغه شوه.

د هغې کوچنۍ خور به د هغې دوایي کوه او هم یې د کور کتغ پخاوه.

ډوډۍ به یې د نږدې نانوایي نه په پیسو اخیسته.

څو ورځې وروسته د هغې مشره لور او زوم د سنځلې د مور پوښتنې ته راغلل.

د هغې مور ډېره ناروغه وه.

هغه د یوې اونۍ له پاره الته پاتې شوه.

هغې به هم د مور خدمت کوه.

اونۍ وروسته یې زوم خپلې ښځې ته و ویل:

ستا د مور کور کوټې ډېرې دي.

ته خپلې مور ته دې و وایه، که چېرې مونږ ته یوه کوټه راکړي.

هسې مونږ په کرایې کورونو کې ژوند کوو.

کومه کرایه چې د کور خاوند (مالک) ته ورکوو، هغه به ستا مور ته ورکړو.

مونږ به دلته هوسا او هم ستا د مور سره به مرسته وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

هغه به پر مونږ ډاده وي.

هغې و منه او خپلې مور ته يې د مېړه خبرې او پرېکړه و ويله.

مور يې ومنه او هغې ته يې و ويل:

کرايې ته اړ تيا نه شته.

د خدای فضل دی.

مونږ چليږو او په خېټه ماړه يو.

ستاسو به مونږ ته تکيه او زمونږ زړه به په تاسو ډاډه وي.

اونۍ وروسته هغوی خپلې مور کور ته کډه راوړه.

هغوی به هم له سنځلې سره په هټۍ کې مر سته کوه.

د شريف دوېيمې لور هم دلته اوبدل او خياطي زده کړه.

هغوی به هم په نندارتونونو کي ځينې خپل اوبدلي او ګنډلي شيان ايښودل.

خلکو به هم فرمايښتونه ورکول.

هغوی په اوبدلو او ګنډلو کې مشهوره شول.

ورځې تېرېدې.

د هغوی روزګار هم ښه کېده.

د هغوی کوشني توليدات بهر ته هم لاره و مونده.

د شريف کوشنۍ لور ښونځي ته تله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

هغې ډېر ښه ذهن درلود او په ښونځي کې لمړۍ نمره وه.

په کوشنیوالی کې هغې دینې زده کړې هم کوې.

هغي قرآنکریم هم لوستی شو.

هغی به د سنځلې سره هم په دیني زده کړو کې مرسته کوه.

په سیمې کې هټۍ ډېرې شوی.

د هغوی د هټۍ ګټه هم لږه شوه.

هغوی هټۍ بنده او د خیاطۍ هټۍ ته یې وده ورکړه.

همدا راز هغوی یوه کوشنۍ دیني مدرسه د نجونو له پاره جوړه کړه.

په پسرلي، دوبي او مني که به یې د انګړ په مخ نجونو ته سبق وایه او په ژمي کې به یې، یوه کوټه تودوه او په بیلا بیلو وختو نو کې به درس ورکاوه.

څه موده نوره هم تېره شوه.

د شریف کوچنۍ لور هم پیغله شوه.

د هغې له پاره هم رایباران راتلل.

مور به یې ټوکې کوې.

هغې به ویل:

زه خپله آخري لور چا ته نه ورکوم.

هغه د سنځلې او ځان خدمت له پاره ساتم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

هغې به څه نه ویل او خندل.

که چا به ترې پوښتنه وکړه چې په رښتیا مېړه نه کوې؟

هغې به ویل:

هو!

سمه ده!

مور مې رښتیا وایي.

یوه کال وروسته د هغې په سې رایباران راغلل.

د مور یې زړه نه وه چې ژر هغه مېړه ته ورکړي.

خو!

نصیب اوقسمت!

بل څه کوي، چې انسان یې په سوچ کې هم نه وي.

د هغې دوېیمه لور د خپل مېړه او دوو ماشومانو سره بهر ته لاړل.

سنځله، مور او کشره خور یې بیا یواځې پاتې شوو.

د سنځلې کوشنۍ خور د پاره هم رایباران ډېر شوو.

رایباران هم د نورو په شان ښه خلک وو.

دا ځل د جلۍ مور یوه شرط درلود او د خپل شرط یې د رایبارانو سره ګډ (شریک) کړل.

د هغې شرط دا وه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

...........................

زه په یوه شرط خپله لور تاسو ته درکوم چې ستاسو زوی زمونږ سره پاتې (خانه داماد) شي.

تاسو پوهېږی چې سنځله معیوبه او زه هم سپین سرې شوې یم.

نه د کار څوک لرو او نه د خدمت.

رایبارانو یې و ویل:

د تاسو خبره رښتیا ده.

په دې هېواد کې، بې له نارینوو نه ژوند مخ ته وړل هم آسانه کار نه دی.

انسان، جوړي او ناروغې لري.

مونږ به د الک سره خبرې وکړو، که چېرې هغه په دې خبرې خوښ (رازي) و، مونږ به بیا راشو، او که هغه خوښ نه و، د مونږ اوتاسو دې خدای پامان وي.

د شریف ښځې و منه.

رایباران له ځایه پاڅېدل، د شریف ښځې او سنځلې سره یې خدای پامانې وکړه بیا خپل کور ته، روان شوو.

څو ورځې وروسته هغوی بیا راغلل.

د شریف مور ته یې و ویل:

مونږ د الک سره خبره وکړه، هغه خوښ(رازی) دی.

د شریف ښځه خوشحاله شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

...........................

بیا یې هغوی ته و ویل:

تاسو ځو ورځې وروسته نارینه هم راولئ.

مونږ به تاسو ته دسمال درکړو.

هغوی و ویل:

مونږ ته اوس کوشنۍ دسمال ( لفظ) راکړئ.

نور مراسم به د رواجونو سره تر سره شي.

د شریف ښځې و منه او هغوی ته یې کوشنۍ دسمال د لفظ په توګه ورکړ.

نوي رايباران د نورو په شان د هغې کوشنۍ دسمال واخیست.

بیا وروسته له نارینوو سره راغلل او لوی دسمال یې تر لاسه کړ.

میاشت وروسته یې کوژده وکړه.

کال وروسته یې واده په هوټل کې تر سره کړ.

هغوی ورته د اړتیا ټول شیان واخیستل او د واده نه وروسته د شریف د ښځې کور ته لاړل.

هغوی الته خپل نوی ژوند پیل کړ.

هغوی دواړو به د سنځلې او مور سره یې مرسته کوه.

وختونه تېر شول.

د شریف ټولې لورګاني پرته له سنځلې د ماشومانو خاوندال شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

د شریف ښځه اوس نیا ده او تر لس ډېر لمسیان لري چې په کې اته الکان او دوې نجونې دي.

سنځله تر اوسه هم یوازې (مجرده) ده.

د هغې ښکلې په نصیب کې واده نه و.

مور یې تر اوسه هم ژوندۍ ده.

هغه د ګنډلو او اوبدلو کار کوي.

هغه اوس د سوداګریز ته نه، بلکه خپلو لمسیانو ته په وړیا توګه کالي جوړوي.

سنځله هم د اوبدلو او ګنډلو کارونه مخ ته وړي.

هغه په خپل ژوند کې خوشحاله او د خدای عبادت کوي.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

**كوشنۍ سوداګره**

..........................

## د چاپ شويو کتابونو لېست

١. معماری افغانستان
٢. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
٣. راهنمود طلايي
(برای اساتيد انستيتوت های تخنيکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنيک (گامی به سوی دنيای انجينری) جلد اول
٥. رسم تخنيک (گامی به سوی دنيای انجينری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
٧. معماری اصيل شهر کابل (مرادخانی)
٨. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
٩. افغانستان در قرن تکنالوژی
١٠. زونبندی اقليم و زلزله افغانستان
١١. صدقه جاريه / دنيای انجينری
١٢. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (١٩٩٠ الی ٢٠٢١)
١٣. داستان حقيقی با مقياس معماری
١٤. فرار از کشور- با تصاوير مستند
١٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
١٦. پخسه در افغانستان
١٧. بنيا نگذاری اولين مساجد توسط افغانها در آسترليا
١٨. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (١٩٩٠ الی ٢٠٢١)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹. منار جام – الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکې - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچین (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم
(جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٣٩. برف ها آب میشود
٤٠. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤١. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤٢. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤٣. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٤. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤٧. د شپیلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
٤٨. حشمت خان د کلا معماري
٤٩. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥٠. د وچو بنونه او پارکونو معماري
٥١. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
٥٢. د ژرنده ګرې ماما مینه (پښتو ناول)
٥٣. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٥٤. شپنه ادي (پښتو ناول)
٥٥. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
٥٦. د مینې تاو (پښتو ناول)
٥٧. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اینجینیرانو(انجینرانو) له پاره
٥٨. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
٥٩. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خواره ملګري (پښتو ناول)
٦٠. د یوې میاشتې ناوې (پښتو ناول)
٦١. دخاځکو هار (د یوه سړی لنډې کیسې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



..........................

۶۲. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانۍ)
۶۳. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کار لاندې کتابونو لېست

١. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
٢. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٣. لیونی لېوه
٤. سپین کارغه
٥. سور تنور
٦. خږه بیزو
٧. بندي مرغه
٨. توده برستن
٩. بې وخته باران
١٠. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوشنۍ سوداګره**

..........................

## د امکان او وخت په صورت کې

۱. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
۲. تاریخ معماری افغانستان
۳. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
۷. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Small
# Seller

Written by: Architect PHD Hashmatullah Atmar

Date: july - August /2025

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**